DAILY
اراده
د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپانه

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER
A.M.R.C
سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ ش

سال سوم شماره هفتاد ویکم
شماره مسلسل ۱۵۱
چهارشنبه ۲۰ حمل ۱۳۸۲ هش
۶ صفرالمظفر ۱۴۲۴ هـ ق
9April 2003

PROPERTY OF ACKU

دملاداالله دنیولولپاره عملیات پیل شول

هلمند: قومندان ملا داد الله لټون په عملیاتو کې د شپیتو تر اویا پانګونه او موټر ونډه لري او پردي سر بیره شل او ۲۵ الوتکې هم په هوا کې ښکاره کیږي چې امریکائیان د ملا داد الله په لټه کې د هلمند ولایت د سنګین ولسوالی ته تللی دی ده وویل چې تر دا محاله یې لا بمبارد ندی کړی د هلمند ولایت د استخباراتو رئیس داد محمد خان وایي چې په سیمه کې د ملا اختر محمد عثمانی ورور پټ خنډ ندی راغلی.

د هلمند ولایت چارواکي وائي چې امریکائي پوځیانو په دغه ولایت کې د شکمنو طالبانو پر ضد پوځي عملیات پیل کړي دي دوی وائي چې تر اوسه لا له طالب جنګیالو سره نه دي مخامخ شوي ویل کیږي د دې عملیاتو موخه د طالبانو د وتلې دي چې د ولایت استخباراتي چارواکي ګمان کوي چې په دغه سیمه کې په فعالیت بوخت دي. چارواکي وائي عملیات په سنګین ولسوالی کې پیل شوي دي چې د نومورې ولایت د شمال لوري ته پرته ده د چارواکو په وینا چې دی او دده په خبره د اوسني حکومت پر خلاف تبلیغاتي جنګ کوي نومورې زیاته کړه چې امریکائیان د ملا داد الله په لټه کې د هلمند ولایت د سنګین ولسوالی ته تللی دی ده وویل چې تر دا محاله د امریکائیانو په عملیاتو کې هیڅ ډول

کشف پنج تانکر حاوی مواد انفجاری

کابل: قوت های آیساف پس از کشف پنج تانکر حاوی مواد انفجاری درکابل به تدابیر امنیتی خویش افزودند. جنرال نوریرت وان قوماندان آلمانی قوای آیساف گفت: حداقل سه تن درکابل به ارتباط تانکرهای مملو از مواد انفجاری دستگیرگردیده اند. وی اضافه نمود قوت های آیساف درمساعی مشترک با قوای امنیتی افغان به شمار پوسته هادراطراف شهر به شمول میدان هوایی بین المللی افزوده اند.

مقدار زیادی مواد مخدر حریق شد

کندهار: مقامات امنیتی ولایت کندهار ۳۱ کیلوگرم چرس ۲۷ کیلو گرم هیرونین و ۴۴۹ کیلوگرم تریاک رادرمحضر عام حریق کرده اند گفته شده است که این مقدار مواد قبلا توسط نیروهای امنیتی پولیس ولایت کندهار ازنزدقاچاقبران مواد مخدرضبط گردیده بودگل آغاشیرزی والی ولایت کندهاربه هنگام حریق موادمخدردرآنولایت گفت که افغانستان عضو فعال جامعه جهانی است واجازه نخواهدداد تاازاین طریق مردم سایر ملل جهان متضررگردند درگذشته نیز مقامات ولایت کندهارووولایت همجوار آن مقادیرزیادی مواد مخدرراکه ازنزدقاچقبران ضبط کرده بودند حریق نموده اند.

سرمقاله

د ټیر کال اشتباه ګانې باید تکرار نشي

د بی وسلې کولو، ملکي کولو او ادغام د کمیسون معاون یوسف (پینټون) د U.N.D.P سیمه ایز رئیس، ارکان مورات او د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي خاص استازی لخضر براهیمي د یکشنبې په ورځ په یوه پریکړه لیک، لاسلیک وکړ، چې د افغانستان د نوي پیل په نامه یادیږي. دغه پروګرام چې د افغانستان د انتقالي، اسلامي اداري لخوا د نړیوالې ټولنې په مرسته ترتیبیږي، د بی وسلو کولو د پروسې د بیا پیل په معنی دی. بیا پیل مو خکه وویل، چې د بن د پریکړو او بیا وروسته په لویه جرګه کې په بی وسلی کیدو باندې تاکید وشو او د افغانستان انتقالي اسلامي اداري د نوي ټاکل شوي رهبري لخوا هم په لویه جرګه کې ددې وعده ورکړ شوه چې وسلې به راټولیږي او په وطن کې به توپک او د توپک سالاري دور ته د پای ټکی ایښودل کیږي او د توپک قوماندان سالاري او ملوک الطوایفي ځای به قانونیت نیسي. مورږ په تیر کال کې ددې شاهد وو، چې ټولې دغه خبرې او ملت ته ورکړ شوي وعدې صرف په وعدو کې پاتې شوې، یوازې په شمالي ولایتونو کې هغه هم په یوه، دوه ولایتونو کې د بی وسلو کولو پروسه په ناقصه او ناوړه بڼه پیل شوه، چې هغې هم نه دا چې څه مثبته او ګټوره پایله نه درلوده بلکې په هغو سیمو کې د خپلمنځي جنګ جګړو او د قوماندانانو او دهغې سیمې د ټولواکانو تر منځ د نوو تریګنیو او سیالیو سبب هم شوه، جالبه خبره خو لا داوه چې وسلې د هماغه سیمو د توپک سالارانو لخوا تولیدي مانا دا چې په هغه سیمو کې انفرادي وسلې د قوماندانانو په ګودامونو کې چې همدوی خپله د جنګ، جګړو او بی امنیتي سبب دي ګودام کیدی او بیا به ضرور د ګودامونو کونجي ګاني هم د همدوی په جیبونو کې وي، او چې کله نې غوښتل کولای نې شول، دا وسله را ویاسي او څنګه یې چې زړه غواړي، بیا یې استعمال کړي. همدا دلیل وو، چې د بی وسلو کولو کار په تپه ودرید او بیا میاشتي، میاشتي تیرې شوې چې د مرکزي دولت لخوا او همدا راز د بهرنۍ ادارو لخوا د هغه لاتجو د له منځه وړلو په خاطر چې د دې پروګرام په خاطر ځ په شمالي ولایتونو کې را پیدا شوې وې، استازي واستول شي او د جنرالانو تر منځ سوله وکړي. د اوسني لاسلیک شوي پریکړه لیک له مخې به په نژدې راتلونکې کې د بی وسلو کولو پروګرام په پنځه ولایتونو کې پیل شي، دا چې دا پروسه په څه ډول او د کومو اصولو پر اساس پیل کیږي خه نه دي ویل شوي خو څه چې مورږ غواړو. وویو هغه دادی چې د دغه کار لپاره دې د اړوندو وزارتونو څخه یو با صلاحیته هیئات د ملګرو ملتونو د اداري د مستقیمي څارنې لاندې وټاکل شي، او ټولې را ټولې شوي وسلې دې مرکز ته په یوه معین او له مخکې څخه ټاکل شوي ځای ته را ولیږدول شي او د ولایتي تولواکانو، چارواکو او قوماندانانو لاسونه دې، ددې وسلو څخه لنډ کړای شي، د تیر کال تجربو په ډاګه وښودله چې د غوښې ساتل په پیشو ګانو به ښې پایلې ونلري.

نه ژورنالیست در جنگ عراق کشته شده اند

حداقل ۹ ژورنالیست از ۲۹ ماه حوت تاکنون درجریان جنگ عراق به قتل رسیده اند آخرین خبرحاکی ازمرگ یک فلمبردارتلویزیون هسپانیوی هوزی کوسو میباشد که از اثر جراحات برداشته درحمله به هوتل فلسطین دربغداد جان- سپرد طبق یک خبردیگربزرگترین تشکیل نمایندگی ژورنالیستان جهان گفت حملات برژورنالیستان درعراق که به ۹ قتل انجامیده جرایم جنگی شمرده میشود دی دن وایت سرمنشی فدراسیون بین المللی ژورنالیستان دریک کنفرانس خبری دربروکسل گفت مقامات عراقی وقوای ائتلاف به رهبری امریکا هردو دراین مسئله مسئول هستند وی تقاضای تحقیقات بین المللی را درزمینه نمود.

دفتر الجزیره هم هدف قرار گرفت

شبکه تلویزیونی الجزیره میگوید یکی از خبرنگاران این شبکه هنگامی کشته شد کی طی یورش هوایي بر بغداد دفتر این شبکه هدف قرار گرفت د فتر مرکزی الجزیره در قطر میگوید که خبرنگار این چینل طارق ایوب طی بمباران، شدیداً جراحات برداشته و سپس جان خود را ازدست داده است شبکه تلویزونی الجزیره د یکی از معروف ترین چینل های تلویزونی در جهان عرب میباشد قرار یک خبر دیگر یک خبرنگار دیگر این شبکه هم جراحت سطحی برداشته است.

قصر ریاست جمهوری عراق که دیروز مورد حمله قرارگرفت


طارق ایوب د الجزیری د تلویزیون وژل شوی ژورنالیست

پر روسی کتار امریکایانو برید کړیدی

په عراق کې د روسیې سفیر ولادیمیر تیتورینکو پر امریکایي ځواکونو تور لګولی چې له بغداد نه د باندې نې دده د موټرو پر کتار برید کړی دی روسان وائي په دغه برید کې لږ تر لږه پنځه کسان ټپیان شول امریکایي چارواکي ټینګار کوي چې لا روښانه نده د برید مسئولیت د چا پر غاړه دی، د B.B.C خبریال د مسکو نه راپور ورکوی. په عراق کې د روسیې سفیر ولادیمیر تیتارینکه چې په خپله هم په دغو ډزو کې لږ تپي شوی دی وائي دا ډزې امریکایانو کولی هغوی تر هر څه د مخه دده پر موټر ډزې پیل کړی ښاغلی تیتارینکه دعوا لري چې دده د موټر چلوونکی سخت تپي شوی وائي هغه عملیات شوی او اوس بستر دی په عراق کې د روسیې سفیر یادونه کوی چې که څه هم د دوی یو دیپلومات سپینه جنډه جګه کړه مګر چا هغه ته پاملرنه نه کوله ولادیمیر تیتارینکه زیاتوی چې حتی د روسیې بیرغ ته هم چا درناوی ونکړ او په هغې نې هم ډزې وکړې دغه روسي چارواکي هم د خپلو ټولو مشرانو په څیر وائي چې له عراقه د دوی د وتلو مهال ویش لاړی او شرایط ټول امریکائیانو ته څرګند و مګر بیا هم دغه پیښه را منځ ته شوه ولسمشر ولادیمیر پوتین لا د پیښې په لومړي شیبه کې د بهرنیو چارو وزیر ایګور ایوانوف ته سپارښتنه کړې وه چې په دې برخه کې غوڅ هر اړخیز او پوره څیړنه وکړي که څه هم د روسیې په مشرتابه کې لا تراوسه پورې هم هیڅا په رسمي توګه امریکائیان په دې پیښه کې ندي تورن کړي مګر په عراق کې د روسیې سفیر ولادیمیر تیتارینکه په ډاګه څرګندوی او وائي د توپکو له ډزو پرته وروسته هغو د موټرو په کتار لاسي بمونو هم راوغورځول په عراق کې د روسیې د سفیر دغه مرکه په داسي حال کې خپریده چې د امریکا د ولسمشر د ملي امنیت صلاکاره کنډولیزا رایس د مسکو په کتنه بوخته وه کنډولیزا رایس په مسکو کې له ولسمشر پوتین د روسیې د بهرنیو او دفاع چارو وزیرانو هر یو ایګور ایوانوف او سرګي ایوانوف او د روسیې د ملي امنیت د شورا د مشر ولادیمیر او شایل سره کتنې درلودې.

له علم اوپوهې سره زمونږ د خلکو یې ګډه مینه

غروال

علم او پوه خو هسې هم دیوه انسان دزیب او زینت او نورو انسانانو ته دخدمت وسیله ده او انسان کولای شي د علم اوپوهې له برکته هم ځان او هم خپلو خلکو ته دخدمت مصدر وګرځي، خو واقعیت دادی چې او س او مونږ به دنا پوهۍ له نیکمرغه هغه خلك دي چې زمونږ خلك پردغه واقعیت تورتمونو سره دتل لپاره مخه له علم او پوهې سره مینه باندې په پوهیدلو سره زیار ښه کړي وي.

ولري. او دترلاسه کولو لپاره باسي هم پخپله علم زده کړي او زمونږ د پورتنۍ ادعا دثبوت یې خپل ټول امکانات په کار هم یې نورو ته انتقال او لپاره یو دسترګو لیدلی حال واچوي. په علم پسې له کوره ولیږدوي چې دا کار زمونږ دمثال په توګه دلته راوړل وتل او دترلاسه کولو لپاره دراتلونکو دروښانه کولو لپاره ضروري بولو او هغه دا چې په یې زحمتونه ګالل نه یوازې یو ښه پیغام دی او مونږ په خوست ولایت کې دافغان ګټورې پایلې لري بلکې په دې ډاډ کوي چې انشاء الله پوهتون څو تنو محصلینو په یوه ټولنه باندې خواره شوي په ډیره کمه موده کې به زمونږ نږدې کرونده تورتمونه هم یو په بل پسې له منځه وړي. څوك چې دیو څه په باب معلومات ونه لري پرهغه باندې دپوهیدو لپاره ورته لازمه ده چې پرته له شرم څخه له هر چانه چې کیدای شي پوښتنه وکړي. تر څو ځان پوه کړي. په دې اړه حضرت امام حسین (رض) خومره ښه فرمایلی دي: ((دعلم په زده کړه کې شرم مه کوئ او نور ته په ښودلو کې بخیلي)).

څوك چې دیو څه په باب معلومات ونه لري پرهغه باندې دپوهیدو لپاره ورته لازمه ده چې پرته له شرم څخه له هر چانه چې کیدای شي پوښتنه وکړي. تر څو ځان پوه کړي. په دې اړه حضرت امام حسین (رض) خومره ښه فرمایلی دي: ((دعلم په زده کړه کې شرم مه کوئ او نور ته په ښودلو کې بخیلي)).

کوره راووت او داسې بریښیدو چې دکلیو او کورونو په جوس کې دمحصلینو پر چکر وهلو قارجن شوی دی. له محصلینو څخه یې پوښتنه وکړه چې تاسو څو یاستئ او دلته څه کوئ؟ هغوی زړه نازړه ځواب ورکړ چې مونږ د افغان پوهنتون په هیواد کې علم اوپوهه کې دچکرو وهلو اراده وکړه محصلین یو.

او ورو ورو دشنو فصلنو په پولو باندې روان وو چې یو ډیره مینه ورسره روغبړ وکړ او د چای خوړلو یې ورته وویل ددې ترڅنګ یې په ډیره مینه تري وغوښتل کې که کله ناکله تاسو انور محصلین دې طرف ته را چکر شئ نو دوې ګټې به مو کړې وي. یو به مو دماغونو ته تازه هوا ورسیږي اوبل به زمونږ بچیان تاسو او ستاسو کړه وړه وګوري او په دې توګه به له هغوی سره هم دسبق مینه پیدا شي، محصلینو دکروند ګر دخبرو په اوریدو سره دخوښۍ احساس وکړ او ژمنه یې ورسره وکړه چې دهغه دې غوښتنې ته به مثبت ځواب ورکړي.

نو اوس مونږ په دې باندې باوري کیږو چې زمونږ کلیوال خلك چې یووخت یې له ښوونځي او مکتب سره سخت مخالفت درلود اوس په دې نتیجه رسیدلي دي چې په نړۍ کې بې علمه ژوند کول لکه درندو انسانانو مثال لري. ځکه خونو هڅه کوي خپل اولادونه دبې خایه ګرځیدو پرځای ښوونځي ته ولیږي او دعلم په ښایسته ګاڼه یې سمبال کړي.

عراقیان د خپلې سیاسي راتلونکې مسؤل دي

د ملګرو ملتونو عمومی منشی کوفی عنان وائی دی توقع لری چی ملګری ملتونه به د جګړی وروسته عراق کی یو مهم رول په غاړه واخلی کوفی عنان وائی توقع لرم چی ملګری ملتونه به یو مهم رول په غاړه واخلی او که چیری موضوع د نوی حکومت او یا لنډ مهالی اداری د جوړولو لپاره د اسانتیاوو برابرولو په هکله وی ملګرو ملتونه په سیمه کی ښه تجربه لری مونږ دبیا رغاونی په ډګر کی کار کړی چی د مرستندویه هیوادونو او د ملګرو ملتونو او نورو موسسو لخوا تر سره شوی دغه راز د ملګرو ملتونو عمومی منشی اعلان وکړ چی د پاکستان یو پیژندل شوی دیپلومات رفیع الدین احمد په دی مسله کی د نړیوالی ټولنی سره ګډو ترتیباتو په هکله خپل ځانګړی مشاور ټاکلی دی کوفی عنان وویل چی عراقیان ښایي د خپلپی سیاسی راتلونکی مسؤل وی او په خپلو طبیعی زیرمو واك ولری کوفی عنان د متحده ایالاتو د هغه پلان په هکله چی غواړی په عراق کی د جګړی وروسته یو لنډ مهالی حکومت را منځ ته کړی څه ندی ویلی د ملګرو ملتونو د عمومی منشی ویاند څرګنده کړه چی کوفی عنان د چهارشنبی په ورځ د فرانسی ، برتانیی ، آلمان او روسیی په لور خوځیږی او ددغو هیوادونو له مشرانو سره به له جګړی وروسته د عراق په اړوند مسایل وڅیړی.

انګلستان د عراق جګړه ګټلی ګڼی

یو جګ پوړی برتانوی پوځی افسر تیره شپه وویل چی ګوا کی د عراق جګړه یی ګټلی ده . ده وویل نه په بصره کی او نه په بغداد کی کوم مهم مقاومت پاتی دی د امریکا ددفاع وزیر دونالد رمز فیلد په یو څه سنجول شوی لهجه وویل. مونږ پوهیږو چی صدام حسین نور نو د عراق په ډیره برخه واکمن ندی خو کله چی دا جګړه پاتی ته ورسیږی نو بیا به څه کیږی تونی بلیر او جورج بوش په شمالی ایرلند کی په همدی باندی غږیږی او څرګنده ده چی د ملګرو ملتونو لپاره له جګړی وروسته عراق کی د یو دقیق رول په اړه ناندری شته دی . د واشنګټن نظر دا دی چی د ا ونډه دی ډیره محدوده وی له جورجیا څخه د جمهوری غوښتونکو له ډلی نه د کانګرس یو غړی جك کنګ ستون په ډاګه وایي چی دی او ډیر نور ملګری یې له ملګرو ملتو سره دښمنی لری . ښاغلی ګنګ ستون وایي دی به زیات خوښ وی که ملګری ملتونه د عراق په راتلونکی کی د نړیوالو بی هدفه سفرونو او محفلونو تر څنګ لوی رول ولوبوی تاسو پوهیږی که څوك په یوه مسئله کی برخه نه اخلی هغه لوی لوبغاړی نه ګڼل کیږي که تاسو هلته وی زیات به مو په دی فکر کاوه چی صدام حسین لیری کړی او په ښه شان بیا د عراق په جورولو فکر وکړی .

د افغانی حاجیانو سره ځوانی او ناځوانی

حاجی میاګل اروال

پاتې برخه

دځمکې پرسر ډېره بختوره او سپیڅلې برخه د مکې معظمې په تاریخي ښار کې دبیت الله شریف مقدس اوسپیڅلې مقام دی چې هر مسلمان په طبیعی ډول دلمانځه له دریدلوسره سم ورسره آشنا کیږي او دهر لمانځه په نیت کې وائی چې : ((مخ مې دکعبې شریفې په لور)) نو ځکځه ئې د هر مسلمان په زړه کې دلیدلو او کتلو ارمان وی او دویاړ وړ خوندوره خبره خو لا هلته وي چې الله (ج) د چا دحج نصیب کړی وی اودنړۍ دګڼ شمیر مسلمانانو په ګډون دیوه واحدالله(ج) په وړاندې دهر قوم، هر ژبې ، هر هیواد، هر نسل، هررنګ خاوندان نر او ښځې په یوه امام پسې له هر راز امتیازی سلوك پرته ، په یوه تکبیر لمونځ اداکوي اوپه یوه آمین سره دعاګانې بدرګه کوي. همدغه وخت دې چې انسان داسلام پر وسعت اوهر اړخیزوالی باندې لا ډیر باوری کوي او داسې اټکل کیږي چې پدغه ستر سپیڅلې مقام کې طاعت، عبادت اودعاګانې دخدای (ج) په دربار کې دقبول او منلو وړ ګرځیدلی دی.

ددغه ستر مقام دتاریخی ارزښت په هلکه ډېرې لیکنې او ستاینې شوی خو هلته دموجود صورت حال بیان دلیك او ادب له توان څخه بهر خبره ده . دمکی معظمی خاوره دبطحا او اماالقرا په نومونو یاده شویده د اوسنی مکی معظمی په زړه کې دکعبې شریفې دبیت الله، مقام دالله (ج) د نازولی پیغمبر حضرت ابراهیم (ع) او اسماعیل(ع) په مبارکو لاسونو آباد شوی چې د مسلمانانو قبله ده او دا خبره هم جوته ده چې دنړۍ دهیڅ برخې دخاورې دومره عزت اوعظمت نشته او همدا مقدس مقام دی چې سږ کال ورته نږدې د ۱۶۰ هیوادونو ۲۲۰۰۰۰۰ تنه حاجیان ورغلی وو . دغه شمیر په شاوخوا کې مسلمانان ورته پخپله دسعودی له خاوری او هم دمنځنۍ ختیځ له نورو هیوادونو څخه راغلی وو.

مکه معظمه دبیت الله شریف دموجودیت، دسترو پیغمبرانو او له انبیاوو دتاتوپی ترڅنګ زمونږ د ستر پیغمبر حضرت محمد(ص) دزیږیدو ځای او پلرنی سیمه ده چې پرتم، جاه او جلال ئې له حده زیات دی.

د اسلام نه دمخه په ۶۰۵م کال کې دکعبې شریفې له سره جوړونه ترسره شوی وه چې دحجرالاسود پرایښودلو دګڼ شمیر قبیلو داختلاف خبرې راپورته شوی خو حضرت محمد(ص) چې لا ځوان وو په الهی تدبر، عقل اوپوهی سره دغه ویاړلی ډېره په یوه څادر کې کېښودله او دځادر پیڅکې دځلورو قومونو مشرانو ته ورکړه او پر خپل ځای ئې کیښودله او په دې ډول ددغو قومونو ترمنځ دجګړې دفتنی مخه ونیوله.

دکعبې شریفې دحرم دساحی او جومات پراختیا هم دلومړی ځل له پاره داسلامی دورې په زمانه کې دحضرت عمر(رض) په خلافت کې عملی شویده، ورپسې دبنی امیه ددورې خلیفه ولید بن عبدالمالك، بیا خلیفه المهدی په ۷۷۶ کې ددغه مبارك جومات ساحه پراخه کړې ده. او بیا په ۹۱۸م کال کې عباسی خلیفه مقتدربالله هم دغه تاریخی اواسلامی جومات ته پاملرنه کړې ده . له دې مودې نه وروسته دسعودی کورنۍ دحکومت تر وخته بیا په دې برخه کې کوم دپام وړ حرکت نه ووشوی.

دسعودی دورې په په موده کې په ۱۹۵۵م ، ۱۹۵۹م او ۱۹۶۱م کال کې د حرم شریف دجومات او صحن دپراختیا له پاره ګټور کارونه شویدی.

دحرم شریف دجومات دپراختیا او له سره ودانی کار په نوی او عصری توګه دسعودی عربستان داوسنی باچا ملك فهدله خوا دنبوی جومات او روضې مبارکې په ګډون په ډېره اخلاص پیل شوی چې داوسنیو ټولو ارتیاوو په پام کې نیولو سره په دري پوړیزه توګه جوړه شوی، یواځې ۵۶ بریښنائی زینې لري چې هره یوه یې په یوه ساعت کې ۱۵۰۰۰ تنه ښکته کولی شي او پورته کولی شي او ډېرستر څلورلفټونه چې هر یوئی په منارونو کې موقعیت لری فعال دی. په دې ودانی کې ۱۴۵۳ ستنې دی چې پورتنۍ برخې ئې دمرمرو پرډبرو پوښل شویدی. دجومات په مرکزی برخه کې درې کړکۍ لرونکي سترې ګنبدی شته. په دې سپیڅلې ودانی کې ۷۱ ستر فانوسونه ، ۱۶۰ قندیلونه، ۷۱۸ ستر ګروپونه نصب دی او په شاوخوا کې ۵۱۳۵ بریښنائی څراغونه، د ۴۰۰ واټو لرونکی ۱۷۴ پراجیکتورونه شته چې دحرم شریف په فضا کې ئې شپه دورځې په شان روښانه کړی وی. ددی ترڅنګ دحرم شریف په جومات کې په اعلی سطحه رادیوی اوتلویزیونی نظام فعال دی چې دتیلفون سیستم هم په کې شته. دهوادسړی ساتلوله پاره دایرکنډیشن داسې ماشینونه فعال دی چې په یوه وخت کې ۱۳،۵۰۰ تنه یخه هوا برابرولای شي او دغه ټول کارونه په کمپیوټرایز سیستم سره تر کنټرول لاندې دی. نور بیا

دیپارغونی په لور

متصدی صفحه : اباسین

امریکا با ادارات تعلیمی وتحصیلی کمک می نماید

سفارت امریکا مقیم کابل باهیئت فرستاده پوهنتون کابل قرارداد به امضا رساند که در آن اعطای وسایل و تجهیزات مورد ضرورت برای لیلیه شامل بود و قیمت آن به (۵۰) هزار دالر امریکائی می رسید وتقریباً یک هفته قبل دردسترس ما قرارگرفت)).

درین قرارداد اجرا شده پنج قلم اجناس (۵۰۰ پایه چپرکت ، (۳۰۰)لیاف، بالشت ودوشک) نیز شامل می باشد که بطور رایگان به لیلیه محصلین اهدا گردید.

عکاسی :سباوون

همچنان سفارت امریکا در نظر دارد برخی عظیم مشکلات محصلین با تسریع وقت مرفوع سازد.

این اتصال همکاری های جهانیان در حالیست که سه ماه قبل محصلین پوهتون کابل بااستفاده از دیمو کراسی تعهد شده غرض طلب نمودن حقوق خویش ودرنهایت بمنظور متوجه ساختن مقامات دولتی به وضعیت ناگوار لیلیه وشرائط زندگی در آن دست به یک سلسله تظاهرات زدند. اما متاسفانه مسئولین امنیتی شهراین چنین تظاهرات راکورکورانه تحرکات دشمنان سیاسی ومخالف خود خواندند ویک قشر مظلوم را بی رحمانه تخت گلوله باران شدید قرار گرفت.

فارمونو په بیارغوه کې دایکارډاوتېره

دایکارډا خیریه ټولنې په افغانستان کې دکرهنې په برخه کې د ۲۰۰۰ کال په مارچ کې په کار پیل وکړ. ددوی دکارساحه دیوسرتاسري دونرپه توګه دکابل. ننګرهار. لغمان. وردګ. غزنې. هلمند. اروزګان. او بامیان سیمې ټاکل شوې دي.

لکه څرنګه چې نن سبا دصنعت نه په یوګام وړاندې دکارپوهانو په نظرکه دزراعت برخې ته پام واوړي ښائي ددغه هیواد لپاره غوره وي نو اټکل ده چې ددغه راز مرستندویه ادارو کاریه هرو مرومثبت پایلې ولري.

ایکارډا له افغان دولت سره په ګډه مشوره په ډومبې ګام کې ددولتې خېرنیزو زراعتې فارمونو بیارغوني اوپالنې ته پام اړولی دی او همدا ټپرکال بې دتخارذخیري فارم. دکندز کرهنیز مرکز. دننګرهار دشیشم باغ او کابل دارالامان فارمونه تر خپلو خېرنو لاندې ټیولې اوله سره ترمیم کړي دي.

دذکرشویو کارونو ترڅنګ نوموړی مرکز په پام کې لري راتلونکې کلونه دافغانستان ټول دولتې فارمونه جوړاو خېرنو لپاره اماده کړي. چې هلته به نوې اصلاح شوې تخمونه مثمر او زینتې نبات او ورسره په خوا کې دمحصولاتو کچه دکمې او کیفې لحاظ لوړه کړي.

همدا راز دغه اداري په تېرو تېرومیاشتو کې دهېواد په بیلابیلوسیمو کې (۳۰۰۰) ټنه بهاري غنم . (۵۳۰۰) ټنه وربشي. شولي. او زغر په سیمیزو بزګرانو ووېشل چې دتخمونو دغه اصلاح شوي ډولونه په دنیم کال په جریان کې دزراعتې محصولاتو څرنګوالې په مثبت شکل بهتره کړای شي.

ایکارډا دافغانستان دزراعت له وزارت سره په ګډه یوه څېړنیزه څانګه پرانستې چې دکرکیلې چارې په ټولو سیمو کې دژوند داړتیاو داولویت په توګه کنترول اووڅاري. د افاتو او امراضو مخه ونیسی او په مجموع کی داسی کدرونه د سمینارونو او ورکشافونو له لارې تربیه کړي چې بزګرو ته دځنګلونو. باغونو اونورو زراعتي محصولاتو د ارزښتونو او اصلاح په هکله ګټوري مشورې او لارښوونې ورکړای شي.

دم ګړي چې دافغانستان په زیاتره ولایاتو کې دکوکنارو کروندې ته بزګرو دلومړی ځل لپاره یا هم له پخوا لاس غځولې کېدای شي دغذائي موادو او ځمکنیو اصلو تولیداتو ځای دتریاکو ممنوعه ماده ونیسي دایکارډادمرکزي دفتر اداري مرستیال یې هم په په دولت اچوي چې د بزګرو سره یې تر ننه هیڅ راز بسپنه کړې نده. نوموړي وړاندوینه کوي چې که تریاك لااقل یوکال دوام ومومي نوهرومرو به دزراعتي محصولاتودخوراقیمتي توکي ځای ونیسي اودیوکال په تېریدو به یې مخنیوی ناشونی وي.هغه زیاتوي چې دولت دې دیو قرارداد له مخې داسې اصلاح شوي تخمونه. کیماوي سرې او نباتي دارودرمل بزګرو ته له بهر نه راوارد کړي چې دکرکیلې او اقتصادي اړتیا خالېګا ډکولای شي.

په افغانستان کې دمېرمنو لپاره بنیادي پوهې

دبشرد حقونو اودیموکراسي دپراختیاړیوال مرکز چې په ۱۹۸۹م کال دکانادا پارلمان په هغه هېواد کې ددیموکراسي او بشري حقوقودفاع په خاطر دنړیوالوحقونو دلایحې پرېنسټ رامنځ ته کړ. د۱۳ کالو په دوران کې ښائي دنړۍ دېرو هغسې هېوادونو ته لاس غځولی وي چې هلته دبشر په حقونو تېری اوددیموکراتیکو اصلو ونه مراعات دورځنې ژوند معمول خبره وي. په همدې مقصددادی دغه مرکزدانساني اجتعماعی خېر ښېګڼې په نیت په افغانستان کې هم دخپلوفعالیتونو په لومړی پړاو ورګډشو.

په لومړي سرکې په افغانستان کې دبشرحقونواودیموکراسي مرکز دښځو د حقونو دیوې څانګړې پانګې لهلارې دښځودحقونو او ددوی دسولې دټینګښت لپاره دهغه له فعالیتونو څخه ملاتړ کوي. دښځودحقونو پانګه د هغو افغاني ښځوداستعدادونو پرمختګ لپاره کاراوهمدا راز دغه پروژه زیاریاسي چې داړیکو دټینګښت له لارې هغه زیارونه چې دسولې دراتګ لپاره ویستل کېږي په ملي او نړیواله سطحه حمایت او دپېژندنې لپاره کار وکړي . په خاصه توګه دغه پانګه ښایي د بیلګې په توګه د ښځو د حقونو د بنوونې روزنې پروژې . دښځو لپاره دکدري روزنې پروژې په سیاسي مسایلو کې دښځودونډې ملاتړ. دیموکراتیک انتخابات اواساسي قانون کې د مېرمنو دمساوي ګډون په ځېر دډیروتخلیقي پروژو څخه هم حمایت وکړي چې دښځو او نجونو د ټولنیز حیثیت دمثبت بدلون لپاره وي.

د "افغاني ښځو دحقوقو پانګه" چې دمېرمنو په چارو کې دهرې پروژې لپاره یې د پنځو نه تر شل زرو امریکائي ډالرو پورې نغدي مرستې خانګړې کړې په لاندینیوشرایطو سره به یې ټولنو یا موسساتو ته سپارې:

۱-هغه ټولنې چې دښځو داړتیاوو په اړه کارکوي.

۲-هغه ټولنې چې دبرابرحقونو د اجنډاپراختیا لپاره کارولري.

۳-هغه ټولنې چې نوی رامنځ ته شوي اودښځو دپرمختیا او ترقی لپاره دنورو سازمانونودچترلاندې کار کولای شي.

۴-هغه ټولنې چې دښځودبشري ټولنو اجنډا ولري اوداچې داړیکودټینګښت لپاره Networking دایرولای شي.

دیادولو وړه ده چې د افغاني میرمنودحقونو پانګې ته ټول مالي او تخنیکي امکانات دبشر حقونو اودیموکراسي دپراختیا نړیوال مرکز په واک کې ورکوي.

اودپروژواخستونکو سازمانونو لپاره دیوشرط په توګه اجباري ده چې دافغانستان په هره سیمه کې چې اړتیاوي کار اوفعالیت ترسره کړای شي.

پروژه شهرک سبز در(۲) سال آینده تکمیل می گردد

طوریکه همه اطلاع دارند پروژه شهرک سبز در (۱۵) کیلو متری شهر کابل واقع ده سبز از مدتی به این سوتاسیس گردیده ودرین اواخر کار ساختانی از روزیکه پیمان کارآن باشرکت های ساختمانی که قرارداد ساخت و ساز شهرک مذکور را امضا کرده اند کارراعملا آغاز نموده وماشین آلات صنعتی و ابزار کار ساختماني آنان نیز در شهرک مستقرشده اند.

درین پروژه عمراني تاحال (۲۰) تن مهندسین ورزیده که بیشتر از (۱۰) تن آنان خارجی میباشند مصروف کار ونظارت پروژه هستند و تعداد بیشتر از (۱۰۰) نفر کارگر روزانه مصروف کار ساختمانی درپروژه مذکور میباشند.

به گفته سید محمد مستقیم رئیس این پروژه درماه آینده احتمال دارد تعداد متخصصین به (۵۰) و کارگران (۱۰۰۰) نفر افزایش یابد. وی همچنان می افزاید که بمنظور سرعت بخشیدن کاردر نظردارد سهولت لیلیه، اعاشه و اباطه نیز برای پرسونل ایجاد نماید.

درباره ای واحد های مسکونی که قرار است اعمار گردد مبتنی برکدام الگو اعمار می گردد سید محمد مستقیم می گویند. «الگوی که در شهرک سبز در نظر گرفته شده تقریباً یک الگوی بین المللي است وتمام نورم های که درجهان امروز درساخت وساز شهرک ها مروج است، رعایت شده.» برمبنای قرار داد که قبلاً امضا گردیده به اثبات می رساند که کار پروژه شهرک سبز نهایتاً درمدت دو سال به پایه اکمال خواهد رسید.

باید یادآور شوم که پروژه های عمرانی دوم وسوم نیردرجنب شهرک سبز یا پروژه اول دزنظر گرفته شده وپیش از تکمیل پروژه اول کار آنان نیز آغاز خواهد شد. واحد های مسکونی که درسه پروسه زمانی اعمار می گردد بعد از تکمیل شدن به قیمت مناسب که تا هنوز انتخاب نگردیده با مشتریان به فروش خواهد رسید.

سر شماری جدید پاسخ مناسب خواهد بود ؟

یک سروی سر شماری در افغانستان راه اندازی شده است تا ابهامی را که ازسالها به اینطرف در مورد اندازه نفوس کشور وجود داشته است رفع نماید.

ازدهه ها به اینطرف باشنده های افغانستان بین ۱۶ تا ۲۸ ملیون نفر تخمین زده شده است . این نا دقیق بودن تعداد باشنده های کشور باعث شده است که مقامات حکومتی نتوانند اولویت های شانرا در مصرف بودجه در راه اعمار مجدد کشور تعین نمایند.

معلومات جمع آوری شده در جریان انتخابات قبلی کشور که اینک از آن دو دهه سپری شده است، درلحظه کنونی مورد استفاده کم میتواند داشته باشد.

به گزارش اداره گزارشدهی جنگ وصلح محمد علی وطنیار رئیس احصایه مرکزی در زمینه میگوید: (ارقامیکه در سال ۱۹۷۹ جمع آوری شده بود، به خاطر تداوم جنگ تکمیل شده نتوانست. زیرا دسته های موظف سر شماری نمیتوانستند در مناطق تحت کنترول مجاهدین که بر ضد حکومت میجنگیدند بروند)

در راستای تطبیق موافقتنامه بن در مورد آینده افغانستان مبنی بر تهیه ارقام جهت برنامه ریزی اعمار مجدد کشور ، حامد کرزی رئیس دولت افغانستان در ماه جولای سال ۲۰۰۲ دستور آغاز سر شماری جدید را صادر نمود.

کار عملی در این استقامت زمانی آغاز شد که دسته ۵۰ نفری مامورین تازه تربیت شده همراه با مامورین بخش نفوس ملل متحد روانه ولایت شمال غربی کندز شدند.

هر کسیکه برای مدد شش ماه در یک محل بود وباش نموده باشد و درنظر داشته باشد که شش ماه دیگر را هم در آن محل زندگی نماید در ثبت وشمار همان محل داخل میشودو معلومات ضروری در مورد سن ، جنس و موقف اجتماعی و اقتصادی اش بحیث باشنده همان محل ثبت و راجستر میشود.

هزینه تطبیق این برنامه که در اجرای آن ۲۲ هزار نفر سهم خواهد گرفت ۱۵ تا ۲۰ ملیون دالر تخمین شده است که قسمت اعظم آن توسط کشور های غربی تمویل خواهد شد.

در اره اندازی انتخابات انتظار برده میشود که نتایج کوتاه مدت آن مقامات آینده را کمک نماید. این انتخابات اولین انتخابات دموکراتیک در تاریخ پرتلاطم کشور خواهد بود. به اساس سر شماری ناتمام سال ۱۹۷۹ نفوس کشور ۱۶ ملیون نفر تخمین زده شده است اما آقای علیار به این باور است که نفوس کشور به ۲۲ ملیون نفر میرسد اما هستند بعضی تحلیل گران دیگر که آنرا در حدود ۲۸ ملیون نفر تخمین مینمایند.

یکی از عرصه هاییکه این سر شماری از آن اجتناب خواهد کرد ترکیب قومی و زبانی نفوس کشور است رقابت میان دسته های عمده قومی یکی از عوامل عمده جنگ داخلی بود که پس از خروج قوای شوروی در سال ۱۹۸۹ کشور را فراگرفت.

علیار میگوید: (سرشماری مسایلی مانند قومیت ، نژاد و یا زبان را بخاطر سلامت وحدت ملی در ثبت وراجستر اتباع درج نمی کند ما همه یک ملت شمرده میشویم)

یکی از مشکلات عمده ایکه در برابر سرشماران قرار دارد تعیین تعداد افغانهایست که در جریان جنگ ها به خارج کشور مهاجرت نمودند ویا در داخل کشور بیجا شده اند.

بعد از سقوط حکومت طالبان در ماه د سامبر ۲۰۰۱ در حدود دو ملیون نفر به کشور عودت نموده اند و رقم درست دیگر در ایران و ۱،۵ ملیون دیگر هنوز در پاکستان باقیست.

تصمیم مبنی برعودت این مهاجرین و اینکه در کدام بخش های کشور جابجا شوند میتواند اثرات مستقیم بالای برنامه های اعمار مجدد زیر بنای متلاشی شده کشور داشته باشد.

بعضی از برنامه ریزان از این خوف دارند که درطی یکدهه نفوس کابل به ۵ ملیون افزایش خواهد یافت.

سید عارف نظیف از وزارت احیای مجدد میگوید: (داشتن احصایه های دقیق نفوس بخاطر اجرای پروژه های احیای مجدد دارای اهمیت فراوان است. بمجردیکه ما ارقام دقیق بدست بیاوریم میتوانیم کار را شروع کنیم.)

راه اندازی سر شماری با استقبال وسیع مردم روبرو شده است. زیرا اینرا قدم حیاتی در راه احیای مجدد زیر بنا و اقتصادی کشور میدانند. محمد کبیر یکتن از راننده های تاکسی در شهر مزدحم کابل میگوید : تراکم نفوس برای همه معضله است (بعقیده من یک برنامه مفصل مبتنی بر ارقام دقیق باید در مورد خانه سازی ، راه سازی و ترافیک در شهر کابل تدوین گردد.)

عبید الله که دریکی از جاده های مزدحم کابل دکاندار میباشد میگوید: (ما تجاران بخاطر بی ثباتی اوضاع اقتصادی بامشکلات زیاد روبرو میباشیم اگر حکومت بتواند برنامه های اقتصادی اجتماعی اش رابرروی ارقام دقیق بنا نماید بسود همه خواهد بود.)

موتر ما جنگله بالا شده

ع. شکوهی

گرشنوی قصه من یک بیک
هست همان دردوغم مشترک
ازوطن خودچومهاجر شدیم
گیرفتادیم به دام وتلک
رفت به تاراج همه مال وکال
زنده چوفابریکهٔ جنگلک
وای که بی‌هویت ماکرده اند
پای وسرماشده درزوپچک
وای برین دوغ فتاده مگس
دشمن ماخودزده بیهوده جک
بسته شده برسرماآب اگر
میزندهرکس که ببینی هکک
موتر ما جنگله بالاشده
پرشده چون خانه خشتی تکک
چون همه گشتندبه جنگ همنوا
کیست که درصلح نمایدکمک ؟
قیمتی ونکبت این قحطسال
گشته به هرگام عیان چون یخک
وای ازین گژدم وکیک وکنه
سقف ودرخانه شده پرخسک
کی شده آن غایله فنیادکس
هست همانا خرک وآن درک
کی رسی با شاهدمقصود خویش

نگذری زین درتوخمیده کپک
چون خنکی زدهمه را ناگهان
مانده ایم ازدست حوادث شخک
بسکه شده عادت ماکشت وخون
صلح شد از خانه مالادرک
هیچکسی نیست پی التیام
هرکه برین زخم بپاشد نمک
وحدت ملی همه امیدماست
کیست برین نکته کند ریب وشک ؟
تاکه نسوزد دل ماخودبه ما
چاره مارابکند چون ملک؟

دیشمې او بیوزلو نجونو لپاره ابتدائیه ښوونځی پرانستل شو

د جنګ څپلو ماشومانو خیریې موسسې ښځینه ابتدائیه ښوونځی پرون د یو لړ مراسمو په ترڅ کې پرانستل شو .

په هغه محفل کې چې له همدی املې جوړ شوی وو وروسته له هغې چې د قران عظیم الشان څو مبارک آیتونه ولوستل شول ، ددغې موسسې رئیس عبدالروف عزیزی خبرې وکړې او د موسسې د اهدافو او راتلونکو پروګرامونو په اړوند یې حاضرینو ته معلومات ورکړه او ویې ویل : دغه ښوونځی چې د هغو یتیمو ، بې وسو او بې وزلو ماشومانو لپاره چې د هغوی پلرونه مړه شوی او یا د کار توان او طاقت نلری د نن څخه دوه کاله اوشپږ میاشتې مخکې جوړ شو ، همدا اوس په دې ښوونځی کې شپیته تنه هلکان په لوست اوزده کړه بوخت دی .

په ښوونځی کې د قالینو اوبدلو ، خطاطی او رسامی څانګې هم فعالی دی او څو ورځې مخکې مو څو پایې کمپیوټری هم را ونیولی تر څو زموږ شاګردان د عصری تکنالوژی سره هم بلد شی .

نوموړې زیاته کړه : موږ خپلو شاګردانو ته د درس د ورکولو ، د قالینو د اوبدلو او رسامی او خطاطی د برخه‌واخلی موږ به‌دغه‌مرسته‌په راتلونکی کی خپلوښځینه‌شاګردانو سره چې‌شمیریې‌پنځوسوتنو تهرسیږی‌هم‌کوو .عبدالروف عزیزی‌زیاته‌کړه‌ددغې‌ښوونځی هغه ښوونی څخه سر بیره په میاشت کی ۳۰ ډالره مالی مرسته هم کوو ، تر څو هغوی د دغې معاش څخه د خپلی کورنی د اقتصادی وضعی په ښه کیدلو کی معاش ورکوو ، چې د مکتب د چارو په پر مخ بیولو او د مالی امکاناتو په برابرولو زموږ سره په امریکا کی میشت افغانی مهاجرین او ځینې افغانان چې په کانادا کی اوسیږی مالی مرسته کوی .

عزیزی زیاته کړه ددغې ښوونځی هغه ساعت زموږ سره همکاری کوی ، موږ د میاشتی ۳۰ ډالره او هغو ښوونکو ته چې نیمه ورځ زموږ سره کار کوی د میاشتی ۴۰ ډالره ورکړ شول .

عزیزی په پای کی وویل : موږ په پام کی لرو چې دغه ښوونځی ته چې اوس ابتدائیه دی ، د متوسطی په سطحه ارتقاء ورکړو .

د ارادی خبریال وائي : ددغه محفل په پای کی د صدا او سیمای افغانستان تلویزون د استازی لخوا چې د امریکی په کالفلورنیا کی فعالیت لری دغه ښوونځی ته (۲۰۰۰) امریکائي ډالر ورکړ شول .

مدافعین بغداد عقب نشینی نکرده اند

صبح دیروز صدای فیر ماشیندار ها در اطراف قصر ریاست جمهوری که روز دوشنبه به تصرف نیروهای امریکائی در آمد شنیده شده است آژانس خبرگذاری رویترز میگوید حد اقل چهار تانک نیروهای امریکائی صبح امروز در این قصر دیده شده اند . دونالد رمز فیلد وزیر دفاع روز دوشنبه اظهار داشت که رژیم عراق بصورت فزاینده یی کنارزده شده است دونالدرمزفیلد میگوید نیروها ائتلافی و داخل در اطراف شهر بغدا در هوا و زمین مصروف عملیات هستند قیادت رژیم عراق بصورت گسترده یی کنار زده شده است دایره تحرک آن ها تنگ تر میشود و گزینه هایشان روبه پایانی نهاده است اما محمد سعید الصحاف وزیر اطلاعات عراق میگوید مدافعین بغداد عقب نشینی نکرده اند و ادعا کرد که که نیروهای عراقی عساکر امریکا را گردن می زنند .

In This Issue

1- News About Iraq War
2- A UN Project In Kapisa
3- United States To Support Educational Administrations
4- The Shahrak-E-Sabz Project To Be Completed In Two Years
5- Misbehavior And Generosity With Afghan Pilgrims
6- ICARDA To Support In Agriculture Affairs
7- Last Year's Mistake Should Not Be Repeated
8- Iraqis Are Responsible For Their Future
9- Reconstruction Page
10- Inauguration Of A New School For Orphan Girls

ارادہ
د افغان نشراتی مرکز خپرونه
موسس و صاحب امتیاز :حاجی سید داؤد
زیر نظر هیأت تحریر انتشار میابد
مدیر مسوول : ظهور افغان
سکرتر مسوول: سید محمد "عادل"
معاون: اسماعیل "تیمور"
ارادہ در ویرایش و پیرایش مطالب دست باز دارد
آدرس: پروان مینه (سینمای بهارستان
سرک مسجد حاجی میر احمد)
تلیفون موبایل: ۰۷۰۲۲۴۷۸۷
۰۷۰۲۷۹۳۰۴
اندیشه و عقاید مطرح شده از سوی نویسنده گان به خودشان مربوط است
کمپوز ودیزاین: انجینیر:محمدجمیل "امیری" چاپ: مطبعه مرکز نشرات افغان
قیمت یک شماره ۲ افغانی

ERADA Daily
Daily Independent Publication, Publisher: Afghan Media Resource Cente
Fuonder: Haji Sayed Daud, Chief Editor: Zuhoor Afghan
Mobil Phone: 070224787 / 070279304